


دکتور حبیب الله تږی

## پښتانهٔ د ننګرهار او پېښور په سيمو کښې:

په پخوانو تحريري اثارو کښې د هغو سيمو د پښتنو په باره کښې هم ډېرې يادونې شوې چې له ننګرهار نه د اباسين ترغاړو پورې امتداد لري. حدود العالم من المشرق الى المغرب بيا هم د اسلامي دورې ورومبنے اثر دے چې ان په څلورمه هجري پېړۍ کښې د ننګرهار په سيمه کښې د پښتنو يادونه کوي. کله چې د دې اثر مؤلف د ننګرهار او لغمان په سيمو غږېږي، ليکي چې: "بنيهار يو ځائے دے چې باچائي ئې مسلمان کوي او له دېرشو نه زياتې مسلمانې، افغانې او هندوې ښځې لري، نور خلق ئې بت پرست دي او درې ستر بتان لري".(۵۶)

داسې ښکاري چې د حدود العالم د پيدا شوې نسخې ناسخ د پورته عبارت د اولې کلمې ټکي، سهواً بې ځايه ايښي او ننهار ئې بنيهار کړے دے. دليل دا چې يو خو د حدود العالم د متن له قرينې نه داسې ښکاري چې مؤلف ئې د ننګرهار د سيمې په باره کښې غږېږي او بل دا چې خپله د حدود العالم د رودونو په بحث کښې هم دا کلمه واضحاً ننهار ليکل شوې ده.

"او بل هغه رود دے چې د لغمان او د دنپور په حدودو کښې له غرهٔ نه راوځي او د ننهار له حد نه تېرېږي".(۵۷) د حدود العالم محشي، مينورسکی هم دا کلمه ننهار يا ننے ننګرهار بولي او وائي چې معنې ئې نههٔ نهرونه ده.(۵۸)

عبدالجبار عتبی د هغو جګړو د بيان په ضمن کښې چې سبکتګين د کابل له شرقي حدودو نه د پېښور تر شاوخوا سيمو پورې د هندو شاهانو له مشر سره کړې دي، په دې سيمو کښې د پښتنو يادونه کوي. دے ليکي چې د سبکتګين جګړنو د هندوانو په لښکر ((يو په يو حمله وکړه، ډېر زيات ئې ورنه تباه کړل او پاتې ئې ورنه وتښتېدل، وروستو تر دې نه هندوانو لکۍ په سر واړولې او له دغو ولاياتو نه ئې طمع وشکوله... د افغانانو او خلجيانو اولس چې د دغو سيمو کوچيان وو، د ناصرالدين په مېړنو کښې شامل شول)).(۵۹)

ابن اثير هم په کامل کښې د کال ۳۶۶هجري د پېښو د بيان په لړ کښې ليکي چې د سبکتګين پوځ هندوان مات کړل. وروستو له دې پېښې نه ((هندوان

خوارهٔ شول، زیاتي ئې ببرغ نهٔ لرهٔ او دا ئې ومنله چې د هېواد داسې سیمو ته لاړ شي چې څوک نهٔ شي وررسېدلے. څهٔ رنګه چې وروستو له دې پښتنې نه سبکتګین د قوت او شوکت خاوند شو، افغانانو او خلج ئې اطاعت ومانهٔ)). (٦٠)

وروستو رشید الدین فضل الله په جامع التواریخ کښې (تالیف: ٧٠٤هجري) دا مطلب تقریباً د العتبي په عباراتو ثبت کړے دے. دے لیکي چې امیر ناصر الدین ((یو په یو حمله وکړه... هغه سیمې په اسلامي ملکونو ورزیاتې شوې... د افغانانو او خلجیانو ډلې چې د هغه ځائے کوچیان وو... د هغهٔ په مړونو کښې داخلې شوې)). _(٦١)



محمد قاسم هم دا پښتنه په تاریخ فرشته کښې ثبت کړې او لیکي چې ((وروستو له دې فتحې نه سبکتګین د خپلو امیرانو یو تن په پښنور کښې پرېښود او د افغان او خلج قومونه ئې چې د دغو سیمو کوچیان وو په خپلو مړونو کښې داخل کړل او غزني ته لاړهٔ))(٦٢) میر خواند هم دا مطلب په روضة الصفا کښې ثبت کړے دے.(٦٣) ابو ریحان بیروني (وفات ٤٤٠هجري) هم د هند په تاریخ کښې وائي چې په دې سیمو کښې افغانان میشته دي، دے لیکي:

"په هغو غرونو کښې چې د غرب په لور د هند سرحد جوړوي د هندوانو او یا هغو خلقو قبائل هست دي چې له هغوي (هندوانو) سره نزدې خپلوي لري، دا سرکش او زیږ قومونه د هندوانو د طائفو تر ټولو نه لرې سرحداتو پورې پراتهٔ دي)). (٦٤)

بیروني لږ وروستو په هم دې اثر کښې په صراحت وائي چې دا زیږ خلق افغانان دي. دے لیکي چې د هند د غربي سرحد په غرونو کښې د افغانانو متعدد قبائل میشتهٔ او د سندهـ د وادۍ تر ګاونډه پورې خوارهٔ دي"(٦٥)

البیروني په خپلو نورو اثارو کښې هم دا غرونه د افغانانو د غرونو په نامه یادوي.

په صیدنه کښې لیکي چې "د اسطوخوزس دا ډول د هند د زمکې د پرشاور (پښور) او د افغانانو د غرونو ترمنځ د دهک (٦٦) خواته شین کېږي.(٦٧).

په همدې اثر کښې بیا لیکي چې "په جبال الافغانیه(٦٨) کښې یو ډول وحشي زیتون پېدا کېږي چې وړې دانې لري". (٦٩)

البیروني په یوهٔ بل اثر الجواهر کښې لیکي چې سرهٔ زر د افغانانو د تغر په سیمه کښې پیدا کیږي.(۷۰)

شیخ ربوه (وفات ۷۲۷هجري) هم د افغانانو د غرونو یادونه کوي او داسې ښکاري چې مطلب ئې هم دا غرونه دي. دے لیکي چې "دریم اقلیم له ګجرات او د افغانانو له غرونو(۷۱) او ملتان نه تر سندهٔ پورې امتداد لري".(۷۲)

ابوالفرج روني د غزنوي سلطان علاء الدولة مسعود بن ابو المظفر ابراهیم د عصر شاعر دے. دغه سلطان چې له کال ۴۹۲ نه تر کال ۵۰۸هجري پورې ئې سلطنت کړے دے، په هند کښې ئې ډیر فتوحات کړي دي.(۷۳) روني دغه فتوحات ستائیلي دي او د یوې قصیدې له یوه بیت نه ئې داسې ښکاري چې د غزنویانو په عصر کښې د اباسین د غاړې د لرغوني ښار موهند یا ویهند اوسېدونکي هم پښتانهٔ دي. روني وائي:

لشکر منصور او هنوز به موهند
برتن افغان تنیده است فغان را(۷۴)

لرغوني معتبر اثار موهن یاویهند یا بیهند د اباسیند په غاړه کښې یو ښار او د ګندهارا پایه تخت ګڼي. البیروني چې د پخواني هند د ځایونو او حالاتو د ښودلو او بیان په برخه کښې د ډیر وچت صلاحیت خاوند دے، ویهند د ګندهارا یوه قصبه او پایه تخت بولي. دے په صفت المعموره کښې لیکي چې "ویهند د سند په وادي کښې د القندهار (ګندهارا) یوه قصبه ده"(۷۵)

هم دے بیا کله چې د هند په تاریخ کښې د هند د سیندونو او لویو لارو او بیلو بیلو سیمو په باره کښې غږیږي، وائي سړے چې "د شمال غرب په لور ور وخوځیږي وروستو له اتهٔ فرسخه د بیاته د سینده غرب ته د جیلم سند ته وروستو له شل فرسخه د سند د سیند غرب ته د قندهار پایه تخت ویهند ته او (بیا) پرشاور(پېښور) ته رسیږي".(۷۶)

په هم دې اثر کښې بیا لیکي چې "غوروند یو لوئے سند دے او د القندهار له پایه تخت یعنې ویهند نه کوز د بتور قصر ته نزدې د سند په سیند کښې توئیږي" (۷۷)

یو بل ځائے په هم دې اثر کښې د ویهند موقعیت په درجو او دقیقو ښئي او لیکي چې "پرشاور په څلور دیرش درجو او څلور څلویښت دقیقو ویهند په څلور دیرش درجو او شل دقیقو عرض البلد کښې " واقع دے.(۷۸)

د منهاج السراج جوزجاني په طبقات کښې هم د ویهند کلمه بیا بیا راغلې او دوهند، ویهند بهند و مهند او دیهند په بڼه لیکل شوي ده. یو ځائے په طبقات کښې راغلي چې "په کومه شپه چې محمود غزنوي وزیږېدهٔ دوهند یا بیهند... بتخانه چې د برشاپور(پېښور) په حدودو کښې د سند د سیند په غاړه واقع وه، ړنګه شوه"(۷۹)

د البیروني او جوزجاني بیانات په دې کښې هیڅ شک نهٔ پریږدي چې ویهند یا موهند د اباسیند په غاړه کښې یو ښار او د ګندهارا پایه تخت دے او روني وائي د غزنویانو لښکر په موهند کښې په افغانانو ناتار جوړ کړو. د دې خبرې معنٰي دا ده چې د اباسیند د غاړې په دې مهم ښار کښې هم پښتانهٔ اوسېدل، دا ځائے اوس د هند په نامه یادیږي.

فرشته هم وائي چې سلطان محمود د کال ۳۹۱ او ۳۹۲ هجري ترمنځ په ویهند حمله وکړه او د دغه

ځائې پښتانهٔ ئې وځپل. دے لیکي چې "سلطان محمود په کال ۳۹۱ کښې بیا د بیهند کلا ته لاړ او هغه ئې ونیوله. جیپال او نور اسیران ئې ازاد کړل، خو د افغانانو مشران ئې ووژل او ځینې ئې له ځان سره د نوکرانو په حیث بوتلل"(۸۰)

کوم مطلب چې مبارک شاه فخرمدبر په اداب الحرب کښې (تألیف: ٦٢٦-٦٣٣هجري) د ادیرا نومي پښتانهٔ په باره کښې لیکلے دے، له هغه نه داسې ښکاري چې پښتانهٔ د غزنویانو په عصر کښې په پېښور او شاوخوا سیمو کښې هم میشته او د هندوانو له دربار سره محشور دي. مبارک شاه لیکي:

"مؤلف د یوهٔ کار دپاره له پرشور(پېښور) نه بتهي ګرام او شاپور ته روان ؤ. د پېښور یو پوه سپین ږیرے ورسره ملګرے شو. سپین ږیري ورته ووئیل د سلطان یمین الدولة محمود غزنوي په وخت کښې ادیرا نومي افغان د نر درې شحنه او کوتوال ؤ. ادیرا له جیپال باچا نه له دې امله وویرېدهٔ چې یوه ورځ له جیپال سره ناست ؤ، باچا مخ ور واړاوهٔ او ورته وې وئیل چې ادیرا تاسو د غوئي غوښه خورئ؟ ادیرا ځواب ورکړو چې زهٔ ئې نهٔ خورم خو..."(۸۱)

فرشته هم د ابوالحسن علي بن مسعود بن محمود د جلوس د کال د پېښو د بیان په ترڅ کښې پښتانهٔ له پېښور نه تر ملتان او سنده پورې خوارهٔ ښئي او لیکي "علي بن ربیع د میرک وکیل په ملګرتیا له یو شمېر مریانو او امیرانو سره پېښور ته وتښتېد او هغه سیمه ئې تر ملتان او سند پورې ترلاسه کړه او افغانان ئې چې خرابے او ورانے ئې کوهٔ، په توره ایل کړل".(۸۲)

تواریخ حافظ رحمت خاني هم د پنځلسمې میلادي پېړۍ په وروستو وختو کښې له کابل نه د اباسیند تر شرقي غاړو پورې پښتانهٔ خوارهٔ او هست ګڼي. ځینې له هغو یادونو نه چې تواریخ د کابل د پښتنو په باره کښې کړې دي، مونږ په هم دې بحث کښې پخوا راواخستې خو د پېښور په ارتباط لیکي چې "هغه وخت کښې په پېښاور میشت دلزاک هر ګوره ډېر زورور ممالک ګیر تومن وو، پېښاور، دوآبه، باجوړ، ننګرهار، کاله پاڼي تر هزارې تر سینده پورې دا واړه ملکونه د دلزاکو وو، هر چېرې دوي پرې ساکن وو"(۸۳)

بیا لیکي چې "ملک هیبوبن جته دلزاک عمر خېل زرو کورو کم و بېش عمرخېلو سره په باجوړ کښې په جندول کښې اوسېدهٔ"(۸٤)

بیا لیکي چې "دلزاک ډېر لوئے تومن دے په دې ملکونه هر چېرته دوي پراتهٔ دي. چنانچې په پېښاور، په ننګرهار په تېراه په کالا پاڼي تر پیهوره چې په کناره د اباسین او په چچ هزاره او په کرلغ هزاره چې له اباسیند نه پورې غاړه پراتهٔ دي اوسېږي".(۸۵)

تواریخ په دې او نورو سیمو کښې د دلزاکو د سکونت نورې یادونې هم کړې دي.

په بابرنامه کښې هم په هغو سیمو کښې چې له ننګرهار او شاوخوا سیمو نه د ا باسیند ترغاړو پورې امتداد لري د پښتنو او د هغو د ژوندانهٔ د حالاتو په باره کښې ډېر څهٔ وئیل شوي دي او لوستونکي ئې د دې لیکنې په اووم فصل کښې لوستلے شي.

نور په بله ګڼه کښې